# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| حقوق بشر | Human rights |
|---|---|

بسمل
۰٤ جون ۲۰۱۱

## مرم له هر شهید سره

هم غله کورته راولي هم وېښ له خوبه ماکړي
هم مي بنه پرې لوټ کړي هم په ما باندې ژړا کړي



نه یم ګیله من له بل چا سرې لمبې خو تا راوړې
لر اوبر سوځېږي ولسونه واویلا کړي



دا خنګه یاري ده په تدبیر یې نه پوهېږمه
هم مي کلک په زلفوتړي هم ټینګه خوله راکړي



راغلل داسمان له سره داسې بنه زړه سواند خلګ
خپل ځان یې هېر کړی غواړي موږ خواران بسیا کړي



موړ لیړي  جنت  ته  خو پخپله  يې زړه نه کیږي
څوک په واسکټو ځوک په بموکې  په  هوا کړي




حورو اوغلمانوته  شیخ  ږیره اوږده کړې وه
اوس يې جام  په لاس کې له  مینا سره ګډا کړي



اوږد مزل یې لنډ کړ کونج  یې  پرېښوداوس  مزې کوي
نه دچا عزت ګوري نه  هم  په  چا پروا کړي



ښه جهاد ؟؟مو وکړ شاباش ژر ژر ږیرې وخرېیئ
ای  د دین  دښمنو لایزال  به  مو رسوا کړي



څنګه  خوند یې  درکړ  له  پردیو پاچا هي غواړئ؟
اه  دیتیمانو به مو یو یو پو پنا کړي



مرم له  هر شهيد سره  په  هره کونډه ويرکوم

څو به  دا تقدير بسمله  موږ  سره جفا کړي

 

درنو لوستونکو!

پورتنی شعر مي يو څه په بيره وليکه  که کومه سهوه پکي وي ما وبښئ همدا اوس په جرمني کي دشپي له دريو بجو ورواوښتي ستړی او ستومان يم خو ددې شعر په ليکلو سره مي روح يوڅه ارام وکړهيله ده چي ستاسو هم خوښ شوی وي .

په درنښت